# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



قاسم باز

۱۲ مارچ ۲۰۱۶

## تر څو به جنګ جګړی کړو !؟

آیا د جهان په معاصر تاریخ کی داسی بل هیواد هم وجود لری، چی تقریباً څلوېښت کاله یی جنګ جګړی تیری کړی وی، فکر نکوم! زمونږ ډیر شیان کره او وره، د نورو هیوادونو د خلکو سره فرق لری، د نورو هیوادونو استازی په پارلمان کی د ملی ګټو دفاع کوی ، اما برعکس زمونږ د خلکو استازی په پارلمان کښی د خپلو نامتو مشرانولکه (غازی امان الله خان) سپکاوی کوی ، او خپل با عزمته زعیمان په بدو الفاظو ستایی، بهترین او ښه مثال یی یو "عبدالله‌لطیف پدرام" او دهغه ستمی دار او دسته ده، همدارنګه زمونږ د پوهنتون ځینی خود فروخته استادان په تلویزیونی ګردی میزو کی په ډیر جرأت او سپین سترګی سره، وطن پلورنی ته لاسونه را بډ وهلی ، بیا دا جنابان وایی چی ( دولت افغانستان بالای یک وجب خاکهای آنطرف خط دیورند حق دعوای اراضی آن مناطق را ندارد.) دا دی زمونږ د پوهنتون استادان او دا دی زمونږ د پارلمان د خلکو استازی.

دلته سؤال پیدا کیږی چی آیا مونږ په افغانستان کښی د حکومت او یا د دولت په نامه کومه اداره لرو. او که نه؟ که یی نلرو زه خپله خبره بیرته اخلم، او که یی لرو، نو بیا ولی زمونږ دولت او حکومت د دارنګه بی مسؤولیته څرګندونو بی مسؤولیته ویوونکی او ډیووره چیان د افغانستان محاکمو ته د ملی خیانت او وطن پلورنی په الزام او اتهام نه معرفی کوی؟ مونږ د محترم داکتر "اشرف غنی"* د افغانستان د منتخب جمهور رئیس نه په ډیر احترام هیله او خواهشمند یو، چی د دارنګه بی مسؤولیته افراد و بی مسؤولیته څرګندونو مخه ونیسی ، او د دارنګه بی مسؤولیته څرګندونو عاملین مجازات کړی.

یوعالم وایی .

ملیت پرستی د یوه هیواد وژنه ده، هر کله که یوه ټولنه پر ملیت پرستی عدت شوه نو دوی دی باید پوهه شی چی ملت یی د بربادی په لوری روان شوی دی.

نن زمونږ یو تعداد وررونه د جهاد د مقدسی کلیمی څخه په سوء استفادی غواړی چی خپلی ناولی او د تعصب نه ډکی سیکتاریستی هیلی د جهاد ترنامه او سیوری لاندی د پردو په لمسون اوهمکاری د ملت په اکثریت تحمیل کړی، ولی دوی پردی نه پوهیږی چی نور خلک د دوی په دی کرغیړونو کړو وړو خلک ښه پوه شوی دی.

عبدالرحمن پژواک وایی.

داوری نمی خواهد خون بها نمی گیرد		انتقام می جوید میهنی که من دارم.

دلته به بیځایه نه وی چی خپلو ګرانو لوستونکو ته د یوه ګران ګمنامی هموطن یو شکلی شعر ډالی (تقدیم) کړم.
دا ګمنامه شاعر وایی.

دا دوه چی مو غازیان شول، هاغه دوه یی کړل مردار
دا دوه چی واک ته راغلل ، هاغه دوه یی کړل فرار
دا دوه چی شهیدان شول ، هاغه دوه یی قاتلان شول
دا دوه چی ځی جنت ته ، هاغه دوه پری دوزخیان شول
توله یی برابره ده، کیسه به وی روانه
داسر په سر سودا به دی ، ټغر ټول کړی افغانه

پای

۲۰۱۶/۱۰/۳

***یادداشت:***

*احترام ما به شخص آقای "باز" و حمایت ما از مواضع سالم شان در قبال حفظ و حراست از وجب به وجب خاک کشور عزیز ما افغانستان، بر ما حکم می نماید تا از ایشان بخواهیم غرض حفظ و حراست از خاک میهن به جای آن که عناصر وطنفروشی از قماش "کرزی"ها، "غنی"ها، "عبدالله"ها و سایر نوکران استعمار را مخاطب قرار می دهند، مردم افغانستان را مخاطب ساخته، از مردم بخواهند تا تجزیه طلبان و وطنفروشانی از قماش "پدرام" ها را در هر جائی که هستند، به کیفر اعمال ننگین تجزیه طلبانهٔ شان رسانیده دامن پاک میهن را از لوث وجود شان پاک نمایند.*

*ادارهٔ پورتال AA-AA*